مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

اووم کال، دوولسم گڼه، منی۱۴۰۱هـ.ش

# اسلامي فقه د قانون مصدر که د قانون بدیل؟

**DOI: 10.64104/v6.Issue12.n1.2022**

**پوهنوال دکتور مصباح الله عبدالباقی**[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0004-4224-2339

ISSN: 3078-9583 (Online)    ISSN: 3078-9575 (Print)

تاریخ نشر: ۱۴۰۱/۱۰/۰۶    تعداد صفحات: ۸۴    از ۱۷ تا ۱۰۰

## لنډیز

په دې څېړنه کې یوه ډېره مهمه قضیه څېړل شوې ده او هغه دا چې ایا په یو اسلامي هېواد کې د فقهې په موجودیت کې قانون جوړونې ته اړتیا شته؟ ایا د دې اړتیا شته چې دا فقه د قانون په بڼه ترتیب کړی شي؟ که قاضي باید ازاد پرې ښودل شي چې د اسلام د فقهي میراث څخه په یو قول فیصله وکړي؟

په دې اړه دا څېړنه دې نتیجې ته رسېدلې چې فقه د قانون بنسټیز مصدر دی خو د قانون بدیل نه شي کېدلی، او دا ځکه چې د قانون خپلې ځانګړنې دي چې هغه په فقه کې نشته، او له دې څخه بنسټیزه ځانګړنه د قانون الزامیت دی، لکه پخوانیو فقهاو هم چې ورته اشاره کړې ده چې وایي «لا فرق بين الإفتاء والقضاء إلا أن المفتي مخبر بالحكم والقاضي ملزم به». نو په هغه اجتهادي قضایاو کې چې فقهي مذاهب په کې متعدد وي، او یا په حنفي مذهب کې اقوال په کې متعدد وي، د دې عصر د غوښتنو سره سم، دې ته اړتیا ده چې د فقهې د تقنین په پروسه کې یو قول ته ترجیح ورکړی شي او قاضي پرې ملزم کړی شي، او دا کار قاضي ته پرې نه ښودلی شي، ځکه قاضي په ځانته ځان غالبا د دې اهلیت نه لري، او که بالفرض څه قاضیان د دې اهلیت ولري، هغه بیا د دې ټولو مسألو د څېړلو فرصت نه لري، بلکې دا کار باید د علماو او پوهانو د یوې ډلې له لورې سرته ورسېږي څوک چې تر یو بریده د ترجیح اهلیت هم ولري او تخصص هم، همدې ته موږ تقنین وایو.

په دې اړه دا هم د یادونې وړ ده چې په حنفي فقه کې د مفتی به، تصحیح شوي او راجح قول موجودیت د فقهې د تقنین اړتیا نه نفي کوي، ځکه دا په اوسنۍ زمانه کې د فتوا لپاره مشخص نه دي، بلکې په دې تصحیح شوو اقوالو کې ډېر بیا کتنې ته اړتیا لري، ځکه چې له دې اقوالو څخه د یو زیات شمېر ترجیح د داسې وجوهو او لاملونو پر بنسټ بناء شوې ده چې هغوی په ورستنیو زمانو کې بدلون موندلی دی، نو د دې اقوالو سره باید به هماغه منهجیت تعامل وشي چې زموږ د فقهاو معمول وه، او په ترجیح کې یې بیا کتنه وشي لکه هغوی چې په ورته حالاتو کې کړې وه.

[1] . رئیس پوهنتون سلام، +93771694474، Misbah.abdulbaqi@gmail.com

د دې ترڅنګ څه داسې قضايا هم شتون لري چې په هره زمانه کې نوې رامنځته کېږي، دې ډول مسائلو ته «نوازل»، «واقعات» او جديد مسائل ويل کېږي، دا ډول مسائل په اوسنۍ زمانه کې ډېر زيات دي ځکه ژوند بې ساري پرمختګ کړی، او په فقه کې يې احکام څېړل ممکن نه ؤ ځکه په هغه وخت کې يې وجود نه درلود، نو اوس بايد د قانون په ضمن کې د دې مسائلو حل د اسلامي شريعت د اصولو سره سم وړاندې کړی شي، چې دا د اسلامي فقهې د تقنين اړتيا جوته کوي.

يو بل ډول قانون جوړونه هم شته چې د فقهې موجوديت مور له هغه څخه نه شي مستغني کولی، دا هغه قانون جوړونه ده چې د شرعي ضوابطو سره سم د مباحاتو د تقييد په ميدان کې صورت نيسي، او دا ځکه چې دا ډول قضايا په فقهي تراث کې نه دي څېړل شوي، او څېړل يې ممکن هم نه ؤ، ځکه چې دا د مؤقتو مصالحو او مفاسدو تابع وي او هغه بدلېږي را بدلېږي، لنډه دا چې فقه د قانون لپاره مصدر دی، خو د قانون بديل نه دی، نو د فقهې پر بنسټ بايد قانون جوړونه سرته ورسېږي.

**کليدي کليمې: تقنين، اجتهاد، ترجيح، د مباحو تقييد، فتوی.**